**ليکونکی** : ويجيی پراشاد(Vijay  Parashad).
**منبع اود خپريدو نيټه** :  اندیپندیت میدیا انستیتوت(2021-09-30).
**ژباړونکی** : پوهندوی دوکتور سیدحسام (مل).

---

# د افغانستان بی وزله خلک دلوي شتمنيو په مينځ کي ژوند کوي

# *Afghanistan impoverished people live amid enormous riches*



***انځور د ستاک فيل (stock file) پواسطه***

*د ا فغا نستا ن د اقتصاد وزير **قاري** **دين محمد حنيف** وويل چې د هغه حکومت د تير حکومت په څير " له نړی څخه مرسته او همکاري نه غواړی. زوړ سيستم د 20 کلونو لپا ره د نړيوالي ټولني لخوا ملاتړ شوی و مګر لا هم ناکام دی .دا سمه خبره ده چې **حنيف** د پيچلي اقتصا د په چلولو کې تجربه نلري ، ځکه چې هغه د خپل مسلک ډيره برخه د طا لبا نو لپاره سيا سي او ډيپلوما تيک کارونه کړي (دواړه په افغانستان او قطر کې) .په*

هرصورت ، له **1996** څخه تر **2001** پورې د طا لبا نو د لومړي حکومت په جریا ن یادوران کې ، **حنیف** د پلان جوړونې وزیر و او په دې پوست کې یې اقتصادي چارو سره معامله وکړه یا دندی تر سره کول.

**حنیف** حق لري په ګوته کړي چې د ولسمشر **حامد کرزي** (2001-2014) او **اشرف غني** (2014-2021) حکومتونه سره له دې چې ملیاردونه ډالر اقتصادي مرستې ترلاسه کړې د افغانستان د خلکو لومړنیو اړتیاو پوره کولو کې پاتې راغلي .د دوی د واکمنۍ په پای کې او دمتحده ایالاتو **20** کاله نیواک – داسې منظوروکړ چې له هر دریو افغان څخه یوافغان له لوږې سره مخ دی ، **72** سلنه نفوس د فقر تر کرښې لاندې ژوند کوي او **65** سلنه خلک برېښنا ته لاسرسی نلري . د لوید یځو پلازمینو څخه هیڅ ډول له شوره ډک آواز نشي کولی دا روښانه حقیقت پټ کړی چې د "نړیوالې ټولنې" ملاتړ په هیواد کې په حقیقت کې هیڅ اقتصادي اوټولنیز پرمختګ لامل ونه ګرځید یا چې غربی هیوادونه ونشو کړی چې ددی هیواد اقتصادی او ټولنیزبرخو ته پراختیا ورکړي. .

# غریب شمال

**حنیف** ، چې د افغانستان د نوې کابینې یوازینی غړی دی چې د هیواد تاجک توکمیز اقلیت دی ،چې د افغانستان له شمال ختیځ ولایت بدخشان څخه راځي .د افغانستا ن شما ل ختیځ ولایتونه د تاجکانو تر ولکې لاندې سیمې دي ، او بدخشان هغه اډه وه چې له هغه ځا یه شمالي ټلواله په چټکۍ سره د متحده ایالاتو تر هوایي پوښښ لاندې راغله ترڅو په 2001 کې د طالبانو په وړاندې برید پیل کړي. د 2021 اګست په لومړیو کې ، طالبان د دغو ولسوالیو له لارې وشوکړي چې دولتی مقا ما ت وشړي چې یې هم وشړل ؟ "د **کرزي** په حکومت کې یو پخواني سړی چې د بدخشان په مرکز فیض آباد کې اوسیږي . وویل :نو موړ ولې اود څه لپاره په کا بل کې د داسې حکومت د فاع کړای وای چې زمونږلپاره هیڅ شی نه دي ترسره کړي **؟**

د **2009** او **2011** کلونوترمینځ ، د **USAID** فندونو **80** سلنه چې افغانستان ته راغلي د سویل او ختیځ سیمو ته تللي ، کوم چې د طا لبا نو طبیعي مرکز و . حتی چې دا پیسې د متحده ایالاتود مشرانو دجرګې په راپورونو کې هم ور نه یادونه شوی دي ، "او هغه دا چې د اوږد مها له پراختیایی پروژو پرځای د لنډ مهاله باثباته برنامو"په رامینځته کیدو باندې لګول شوې په **2014** کې، د بد خشا ن د**ارګو**(Argo) ولسوالې ولسوال، **حاجي عبدالودود** **رویترز**ته وویل،"هیڅا مونږته پیسې یا بودجې نه دي راکړي چې په پراختیایی پروژوکې مو لګولی وای ، مونږپخپل ولسوالۍ کې د مصرف لپا ره سرچینې نلرو ، زمونږ ولایت لیرې پروت دی اودلوړ پوړي مقامات لږ پام ځانته اړوي .

د **حنیف** اصلي ټاټوبی بدخشان - او د هغې ګاونډي سیمې - د لوی فقر له امله رنځ وړي ، نرخونه **60** سلنه پورته دی. کله چې د نا کا مۍ په اړه خبرې کیږي نو **حنیف** خپل کور وخپل ولایت په ذهن کې راولي.

او هغه داچې د زرګونو کلونو لپاره ، د بدخشان ولایت د قیمتي ډبرو لکه **لاپیس لازولي**

لپاره د کانونو کور دی . په کال (2010)کې د متحده ایالاتو د پوځ یوه راپور اټکل وکړ چې په افغانستان کې لږترلږه د یو **ټریلیون ډالرو** په ارزښت قیمتي فلزات شتون لري د همدې کال په وروستیو کې ، د افغانستان د کانونو وزیر **وحیدالله شهراني** **بي بي سي** راډیو ته وویل چې حقیقي ارقام ممکن درې چنده وي . بې وزله شما ل شاید له هرڅه وروسته دومره غریب نه وي .

## په شما ل کې غله

**د تریاکو تولید د افغانستان د ناخالص کورني تولید لویه برخه جوړوي ، دا ډیری وخت د هیواد اقتصاد باندې د نړیوالو رسنیو پوښښ تمرکز کوي او په تیرو څو کلونو کې یې دهیواد ویجاړونکي جنګونه تمویل کړي . په ورته وخت کې ،د بد خشا ن جواهراتو په څو لسیزه کې د احمد شاه مسعود د جمعیت اسلامي ډلې لپا ره تمویل برابر کړ له 1992 وروسته ، کله چې مسعود په کابل کې د دفاع وزیر شو ، هغه له پولنډي شرکت — انټر کامرس(Intercommerce) سره تړون وکړ چې په کال کې د اټکل له مخې 200 میلیونه ډالر وپلوري .کله چې طا لبا نو مسعود له واکه ګوښه کړ ، هغه بیرته پنجشیر دره ته راستون شو او د طالبانو ضد مقاومت تمویل لپاره یې بدخشان ، تخار او پنجشیر جواهرات وکارول.**

کله چې شما لي ټلواله - چې پکې د **مسعود** ډله هم شامله وه - په **2001** کې د متحده ایالاتو تربمبا رۍ لاندې واک ته ورسیده ، دا معد نونه د شمالي ټلوالې قوما ند انا نو ملکیت شو لکه د **حاجي عبدالما لک** ، **زکریا سودا** او **زلمی مجد دي** - د شما لي ټلوالې تول سیا ستوال - دغه معدنونه کنټرولوي . د **مجد دي** وررور **اسدالله مجددي** د ماینونو د سا تنې د ځواک ملېشه قوماندان و ، چې د دې نویو ا شخاصو لپا ره یې معد نونه خوندي کړل .

په **2012** کې ، د افغانستان د کانونو وزیر **وحیدالله شهراني** په معاملو کې د فساد کچه څرګنده کړه ، کوم چې هغه په **2009** کې د متحده ایالاتو سفارت ته واضح کړی و . د نوي قانون له لارې فشار راوړل چې د کا ن کیند نې نړیوالو شرکتونو ته اجازه ورکړي چې د هیواد سرچینو ته د لاسرسي ډېره آزادي ولري. بیلا بیلو نړیوالو ادارو - پشمول د **سینټر** (انګلستان) او پولنډي میلیاردر **جان کولزیک** - د دې ولایت د سرو زرو ، مسو او قیمتي ډبرو کانونو ته د لاسرسي هڅه کړې **سنټر** د افغانستان د سرو زرو او کانونو شرکت سره یو اتحاد رامینځته کړی ، چې مشري یې د ښا ري پراختیا پخواني وزیر **سادات نادري** کوي .د **کنسورشیم کان** کیند نې تجهیزات اوس طا لبا نو نیولي دي .د سږکال په پیل کې ، **شهراني** د افغانستان سترې محکمې له واک څخه دناوړه استفادې په تور په(13) میاشتو بند محکوم کړ .

## طالبان به څه کوي؟

**حنیف** یوه ناممکن اجنډا لري. نړیوال وجهي صندوق د افغانستان لپاره بسپنې وځنډولې ، او د متحده ایالاتو حکومت په متحده ایالاتو کې د افغانستان شا وخوا( 10) ملیا رد ډالرو

بهرنۍ زیرمو ته لاسرسی بند کړ. ځینې بشري مرستې اوس هیواد ته ننوتلي ، مګر دا به کافي نه وي. د طا لبا نو سخت تولنیز پا لیسي - په ځانګړي توګه د ښځو پروړاندې - به د یری مرستندویه دلې هیواد ته له ستنید و څخه ډډه وکړي یعنی له مرسته کولو څخه ډډه وکړي

دهیواد مرکزي بانک،د افغا نستا ن با نک (DAB) چارواکوما ته وویل چې د حکومت په وړاندې اختیارونه لږ دي. د کا ن کیند نې شتمنۍ یازیرمې با ندې بنسټیز کنټرول ندی رامینځته شوی. یوه چارواکي وویل: "کومې معاملې کمې شوې چې یو څو اشخا صو ته ګټه رسوي نه په ټول هیواد کې."د میس عینک دمسو کان پراختیا لپاره یوه لویه معامله چې د **چین** د فلزد **جیا نګسي** کارپوریشن شرکت سره رامینځته شوې له ***2008*** راهیسې بیکاره نا ست و.یعنی چې کارونه په ټپه دریدلی دي .

د سپټمبرپه نیمایي کې د شانګهای دهمکارۍ سازمان (SCO) په غونډه کې،د تاجکستا ن ولسمشر ***امام علي رحمان*** د دې اړتیا په اړه خبرې وکړې چې د ترهګرو ډلو مخه دې ونیسي چې د افغا نستا ن له پولو څخه منځنۍ اسیا او لویدیځ چین ګډوډ کړي. ***رحمان*** ځان د تاجکانو د مدافع په توګه وتاکه که څه هم د پولې دواړو غا ړو ته د تاجک تولنو قفر با ید دپام وړوي لکه څنګه چې په افغا نستا ن کې د لږکیو په توګه د تاجکا نوحقونوسا تل کیږي.

د شانګهای سازمان لخوا هیڅ عامه اشاره شتون نلري چې دا به نه یوازې د پولې هاخوا ترهګرۍ مخه ونیسي ، بلکه د پولې هاخوا قا چا ق به هم مخنیوی وکړي. د افغا نستا ن له شما لي ولایتونو څخه د ***هیروینو*** او ***تریاکو*** لویه برخه تاجکستان ته ځي بې شمیره پیسې د افغا نستا ن څخه بهر د کا نونو ، قیمتي ډبرو او فلزاتو په نا قا نونه حرکت کې رامینځته کیږي **. حنیف په** مستقیم توګه دا تیکی نه دی څرګند کړی ، مګر د **DAB** چارواکي وایي تر هغه چې افغانستان خپلې سرچینې غوره نه کړي ، هغه څه چې په تیرو دوه لسیزو کې یې ناکا مه کړي ، هیواد به ونشي کولی د خلکو د ژوند شرایط ښه کړي .

**----------------------------- په درناوی (01-10-2021)**